افغان کرکټ
AFGHAN CRICKET
Afghanistan Cricket Board

بریـــــا د ټولو هیله

جنــوري ۲۰۱۹ کــال
شپږم کال، لومړۍ ګڼه

بانک اسلامی افغانستان
Islamic Bank of Afghanistan
اولین بـــانک کـــاملاً
اسلامی در کشـــور
2121

2121 www.ibafg.com info@ibafg.af

د افغانستان کرکټ بورډ
د رسنيو او بازار موندنې څانګه
يوه مياشتنۍ مجله
جنوري - ۲۰۱۹

مسوول مدير: مصطفی سالک

ليکوالان او راټولوونکي:

لطف الله ستانکزی، عبدالله خان پکتاني، محمد فريد هوتک،
بختيار ساحل او محمد نعمان اشرفي

عکس اخيستونکي:

سيد حسرت سادات، صديق الله عابد او احمد خبير فنا

ډيزاين: رضا مجيدي، احمد عابد سعادت

بازار موندنه: نجي الرحمن عزيزي

media@afghancricket.af
AfghanistanCricketboardOfficial
@ACBOfficials
afghanistancricketboard
www.cricket.af
Alokozay Kabul International Cricket Stadium
Near Chaman-e-Huzoori, Khan Abdul Ghani
Khan Road, Kabul Afghanistan

ALOKOZAY GROUP OF
COMPANIES

افغان کرکټ
AFGHAN CRICKET

لیکلړ

سرمقاله ۱
افغانستان په مستقیم ډول د ۲۰۲۰ کال شل اوریز جام لوبو ته لاره ومونده ۲
د زونونو په کچه دوه ورځنۍ ولایتي سیالۍ ۳
د هېواد بېلابېلو ولایتونو ته د کرکټ بورډ د رییس سفرونه ۴
ستانکزی: افغانستان تا پایان سال ۲۰۲۲ حدود صد مسابقه جهانی خواهد داشت ۱۰
افغانستان در ماه فبروری سال جاری به مصاف ایرلند می‌رود ۱۲
احمدشاه سلیمانخېل د کورنی کرکټ د مدیر په توګه معرفي شو ۱۴
افغانستان به د روان کال په مې کې د سکاټلنډ سره مخ شي ۱۵
د کورني کرکټ لوبو او فعالیتونو کلنی پلان اعلان شو ۱۷
د ملي لوبډلې له لوبډلمشر محمد اصغر افغان سره مرکه ۲۴
د کرکټ بورډ د ځانګو پېژندنه ۲۶
هند د لومړي ځل لپاره استرالیا ته په خپل کور کې ماتې ورکړه ۳۰
د کرکټ جالب ریکارډونه ۳۲
یو شمېر منفي ریکارډونه ۳۴
د کرکټ لوبې پیل ۳۶
2018: Another Successful Year for Afghanistan Cricket ۳۹
The Afghan Brand of T20 Cricket ۴۲

سرمقاله

تـــر نړیـــوال جـامـه

کله چې د افغانستان کرکټ بورډ اداره نوي رامنځته شوه، هرڅه نوي و او دغې ادارې له صفر د صعود پر لوري پیل وکړ. خلکو د دغې ادارې او خپلو لوبغاړو په اړه حتی دا تصور هم نه شو کولی چې کومه ورځ به دوی د بریا تر لوړې پوړۍ ځان رسوي.

لوړ همت او هوډ، غوره تګلارې او پلانونو نن د افغانستان کرکټ بورډ اداره د نورو ادارو له منځه یوه غوره بېلګه ګرځولې، هغه ارمانونو او اهداف چې په لومړیو کې موجود و؛ ډېری یې ترلاسه شول او لا هم دغه لړۍ دوام لري.

افغانستان یو مهال د کرکټ نړۍ په ډګر کې د دریمې درجې هېواد په نوم یادېده، له ډېرو هلو ځلو او لاسته راوړنو وروسته یې دویمې درجې ته ځان پورته کړ او دغو هلو ځلو دوام وکړ، تر دې چې بشپړ غړیتوب یې هم ترلاسه کړ او اوس د کرکټ نړۍ هېوادونو لپاره د کرکټ لاسته راوړنو په برخه کې یوه ښه بېلګه شوه.

د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې تیر کال له ډېرو ننګونو او پېچلي حالته وروسته د دویم ځل لپاره د پنځوس اوریزو لوبو نړیوال جام ته لاره ومونده چې د روان کال په جون او جولای میاشتو کې په انګلستان او ویلز هېوادونو کې ترسره کېږي؛ وروسته یې په مستقیم ډول د ۲۰۲۰ کال شل اوریزو لوبو نړیوال جام ته هم لاره ومونده چې دا هم د افغانستان لپاره یو ښه زېری او ستره لاسته راوړنه وه.

اوس د پلان له مخې، د دغې ادارې لپاره تر ټولو اساسي هدف د نړیوالو جامونو په لوبو کې د افغانستان ښه ځلېدل او حتی د افغانستان په نوم د یاد جام ثبتول دي، چې د همدې ستر هدف لپاره ملي لوبغاړي ډېر زیار باسي او د ادارې له لوري ورته د نړۍ په بېلابېلو ځایونو کې د چمتووالي په موخه تمریناتي کمپونه ترسره شوي دي او دا لړۍ لا دوام لري.

پورتنیو ټولو لاسته راوړنو ته په پام سره زموږ دا ارمان او خوب هم انشاءالله په پوره کېدو دی چې افغان لوبډله به په نږدې راتلونکې کې نړیوال جام ګټې او دغه ستر خوب به په حقیقت بدلوي.

درنښت

افغانستان په مستقیم ډول د ۲۰۲۰ کال شل اوریز جام لوبو ته لاره ومونده

د کرکټ نړیوالې شورا د درجه بندۍ پر بنسټ، د افغانستان ملي لوبډلې د ۲۰۲۰ زېږدیزکال نړیوال جام ته په مستقیم ډول لاره ومونده چې د یاد نړیوال جام لوبې به په استرالیا هېواد کې د اکتوبر له ۱۸ د نومبر تر ۱۵ پورې ترسره شي.
د کرکټ نړیوالې شورا د روان زېږدیز کال د جنورۍ میاشتې په لومړۍ نېټه د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره تایید کړه چې افغانستان به د اوو نورو هېوادونو ترڅنګ، د ۲۰۲۰ کال د شل اوریزو لوبو نړیوال جام د ۱۲ غوره ګډون کوونکو هېوادونو په پړاو کې په مستقیم ډول ګډون کوي.
په یاد نوملړ کې د افغانستان سربېره پاکستان، هندوستان، انګلستان، استرالیا، سویلي افریقا، نیوزیلنډ او ویسټ انډیز هېوادونه شتون لري او باید وویل شي چې یادې اته لوبډلې د کرکټ نړیوالې شورا د شل اوریز لوبو په درجه بندۍ کې اته غوره لوبډلې دي او پاتې څلور لوبډلې به د اتو نورو لوبډلو ترمنځ له سیالیو وروسته د دغه جام د ۱۲ ګډون کوونکو هېوادونو پړاو ته لاره ومومي.
باید وویل شي چې افغانستان په ۲۰۱۸ کال کې بنګله دېش ته په ۰-۳ ماتې ورکولو سره د لومړي ځل لپاره د کرکټ نړیوالې شورا د شل اوریزو لوبو په درجه بندۍ کې اتم مقام خپل او د ۲۰۱۸ کال تر پایه پورې په بریالیتوب سره په اتم مقام پاتې شو چې پایله کې یې افغانستان په مستقیم ډول د یاد کال نړیوال جام سیالیو ته لاره وموندله.

د زونونو په کچه دوه ورځنۍ ولایتي سیالۍ

د افغانستان د پنځو زونونو ترمنځ د کرکټ دوه ورځنۍ سیالۍ د جنوري میاشتې په ۱۱مه نېټه په کندهار، خوست، ننګرهار او کونړ ولایتونو کې پیل شوې چې د ۲۷ ورځو لپاره به روانې پاتې شي.
په دې لوبو کې به له هر یوه زون ۴ لوبډلې ګډون کوي خو دا چې د مس عینک زون اړوند ولایتونه ډېر دي نو پنځه لوبډلې به ولري.
سربېره پر مسک عینک څلور نور زونونه بوست، امو، سپین غر او بند امیر د یادو لوبډلو په نوملړ کې شامل دي.
په مسک عینک زون کې د خوست، پکتیا، پکتیکا، لوګر، او غزني لوبډلې لوبېږي.
په بوست زون کې کندهار، زابل، هلمند او روزګان ولایتونه راځي.
ننګرهار، کونړ او لغمان بیا د سپین غر زون په اډانه کې راځي.
په امو زون کې د کندز، بغلان، تخار او مزار لوبډلې شاملې دي.
او همدا راز له بند امیر زونه به د کابل، کاپیسا، میدان وردګ، او پروان ولایتونو لوبډلې په دې سیالیو کې برخه اخلي.
په ټوله کې به د ۲۱ ولایتونو لوبغاړي په دغو سیالیو کې ونډه ولري.
په یادو دوه ورځنیو سیالیو کې به د څلور ورځنیو یا ټیسټ سیالیو په څېر هره لوبډله دوه اننګزونه لوبوي.
ټول زونونه به په خپلو کې لوبې کوي او د فاینل ګټونکې لوبډله به د نورو زونونو له یوې یوې اتلې لوبډلې سره لوبه کوي، چې دا لوبې به درې ورځنۍ وي.
هره لوبډله د ۱۴ لوبغاړو نوملړ لري او هغه لوبغاړي ورته غوره شوي چې په کلب کچه سیالیو کې ډېر ځلیدلي وو.
د کرکټ بورډ یو شرط دا هم دی چې هره لوبډله به له ځان سره ۳ فرسټ کلاس لوبغاړي لري.
کرکټ بورډ لوبېدونکو لوبغاړو ته ورځني لګښتونه او خوراک ورکوي او د لرېو پرتو ولایتونو لوبغاړو ته د اوسېدو اسانتیا هم برابروي، په پام کې ده چې د هرې لوبې غوره لوبغاړي ته جایزه هم ورکړل شي.
د دې لوبو موخه فرسټ کلاس لوبو ته د غوره لوبغاړو موندل دي.
د دې لوبو موخه په افغانستان کې د کرکټ لپاره پاخه بنسټونه موندل دي چې لوبغاړي له پیله یون پیل کړي، لومړی کلب کچه سیالۍ وکړي، بیا دوه ورځنیو سیالیو ته لاره پرانیزي او بیا درې ورځنۍ فرسټ کلاس لوبې وکړي او دغسې څلور ورځنیو فرسټ کلاس سیالیو او لیسټ ای لوبو ته مخه کړي چې ورپسې ایمرجنګ او ملي لوبډلو ته د لوبغاړو د غوره کېدو فرصت پیدا کیږي.

د هېـواد بېلابېلو ولايتونو ته د کرکټ بورډ د رييس سفرونه

خوست ته سفر:

د افغانستان کرکټ بورډ عمومي رييس عزيزالله فضلي او ورسره مله پلاوي يو شمېر ولايتونو ته خپل سفرونه له خوست ولايته پيل کړل، ښاغلي فضلي هلته د کرکټ د اکاډمۍ د بيارغونې او معياري کولو د کار پرانېسته وکړه، او ورسره يې د خوست لوبغالي د روانو ودانيزو چارو ليدنه وکړه. ښاغلي فضلي وويل چې د کرکټ لوبغالی به تر جوړېدو وروسته د ۸۰۰۰ نندارچيانو د ځايولو وړتيا ولري چې په پيل کې د ۴۰۰۰ کسانو لپاره د ناست ځايونو جوړول په پام کې نيول شوي وو.

د ناست ځايونو جوړولو د دويم فېز کارونه ۷۵ سلنه تر سره شوي دي له ښاغلي فضلي سره د کرکټ بورډ د انجينرۍ څانګې ډله هم مله وه چې د لوبغالي د جوړيدو چارې يې له نږدې ولیدې.

پکتيا ته سفر:

له خوست د راستنېدو پر مهال د کرکټ بورډ عمومي رييس عزيزالله فضلي په پکتيا کې تم شو او د دغه ولايت د کرکټ لوبغالي د رغونې د کارونو جاج يې واخيست، ښاغلي فضلي د کرکټ بورډ له تخنيکي همکارانو سره په ګډه د لوبغالي په اډانه کې د روزنيزې اکاډمۍ لپاره ځای ځانګړی کړ چې چارې به يې د روان ميلادي کال په اوږدو کې پيل شي، ښاغلي فضلي د مدني ټولنې له يو شمېر غړو سره د ليدو پر مهال وويل چې پکتيا ته به د مس عينک زون د مرکز په توګه ډېر پام کيږي، همدا راز نوموړي وويل، په پام کې ده چې په راروان وخت کې دې لوبغالي ته د سټيډيوم بڼه ورکړل شي چې په وينا يې د ډيزاين کار يې روان دی.

د پکتيا لوبغالی په ۳۲ جريبه ځمکه کې جوړيږي چې د رغنيزو چارو لومړی پړاو يې تير کال بشپړ شوی دی.

د زابل سفر:

په پکتیا پسې د کرکټ بورډ عمومي مشر عزیز الله فضلي زابل ولایت ته سفر وکړ چې چارواکو، قامي مشرانو، د مدني ټولنې غړو، لوبغاړو او ولسي خلکو یې تود هرکلی وکړ. د زابل والي رحمت الله یارمل غوښتنه وکړه چې د دغه ولایت د کرکټ لوبغالی باید نور هم پراخه شي او یوه سنبال اکاډمۍ هم ورته جوړه شي، د کرکټ بورډ رییس وویل چې زابل ته یې د سفر موخه دا ده چې د کرکټ اړوند ستونزې معلومې کړي او بیا یې د هوارولو لپاره لاس په کار شي.

ښاغلي فضلي وویل چې د کرکټ بورډ امکاناتو ته په کتو به شته ستونزې هوارې کړي. د زابل قامي مشرانو ښاغلی فضلي ته د ویاړ پګړۍ ور په سر کړه، والي په یوې ښکلې چېنې ونازاوه او د مدني ټولنې غړو ستاینلیک ورکړ.

لغمان ته سفر:

د افغانستان کرکټ بورډ عمومي رییس عزیز الله فضلي او اجراییه رییس شفیق الله ستانکزي د لغمان سفر هم وکړ او هلته یې د کرکټ د لوبغالي د رغنیزو چارو څارنه وکړه ښاغلي فضلي هلته د یوې غونډې په ترڅ کې وویل چې د لوبغالي د جوړېدو کار ۷۰ سلنه بشپړ شوی او په راروانو ٦ میاشتو کې به لوبو ته چمتو شي . اجراییه رییس بیا وویل چې د لغمان د لوبغالي پر پروژه ۳ لکه امریکايي ډالر لګښت شوی او د مالیې وزارت هم ورته یو میلون ډالر ځانګړي کړي. نوموړي وویل چې دا پروژه په ۴۸ میلونه افغانۍ بشپړېږي او په وینا یې ۲۰ میلونه افغانۍ له مالیې وزارت سره دي او هڅه یې دا ده چې په دې ۲۰ میلونه افغانیو په لغمان کې یو سنبال میلمستون جوړ کړي.

د ننگرهار سفر:

ورپسې د افغانستان کرکټ بورډ عمومي رييس عزيزالله فضلي او اجراييه رييس شفيق الله ستانکزی له مله پلاوي سره يوځای ننگرهار ته لاړل او د ننگرهار له والي حيات الله حيات سره يې د بهسودو د لوبغالي د جوړېدو پر ستونزو خبرې وکړې. ښاغلي فضلي وويل چې د دغه لوبغالي د کار د پيل څنډ د ځمکې کموالی دی که ځمکه ولري دوی چمتو دي چې مليونونه ډالر پرې ولگوي هغه وويل چې دا پروژه به په ۳۰ جريبه ځمکه کې بشپړه شي چې له لوبغالي سره اړوند مېلمستون، سرخلاصې او سرپټې اکاډمۍ به هم ولري.

د کرکټ بورډ اجراييه رييس وويل چې کرکټ بورډ غواړي سږ کال پر دې لوبغالي له خپلې پرمختيايي بوديجې لگښت وکړي. نوموړي وړانديز وکړ چې له کرکټ بورډ سره دې ترون لاسليک شي چې پر بنسټ يې د لوبغالي د هوارولو، کانالازيسيون اوبو او چمن چارې بشپړې شي.

د ننگرهار والي حيات الله حيات وويل چې د دې پروژې قانوني سندونه به کرکټ بورډ ته سپاري او هيچا ته به اجازه ور نه کړي چې د پروژې په مخکې خنډونه جوړ کړي.

کونړ ته سفر:

د کرکټ بورډ عمومي رييس عزيزالله فضلي او اجراييه رييس په همدې سفر کې کونړ ته هم ولاړل چې هلته يې د کونړ له والي عبدالستار ميرزکوال سره ناسته لرله، ښاغلي فضلي وويل چې کونړ په تېر مهال کې هم په خپله غېږه کې ستر استعدادونه روزلي او هيله لري چې په کرکټ کې هم دغسې استعدادونه وروزي. ښاغلي فضلي له چارواکو، ديني عالمانو او ولس څخه مننه وکړه چې د يوې مدرسې ځمکه چې لوبغالي ته بيخي نږدې وه د کرکټ اکاډمۍ ته ورکړه او په بدل کې يې کرکټ بورډ په بل مناسب ځای کې مدرسې ته ځای ورکړ چې په معياري ډول يې د جوړولو چارې د ۳۹ لکه افغانيو په لگښت پيل شوې.

د کونړ والي ژمنه وکړه چې د لوبغالي د پراخولو په موخه به ژر لاس په کار شي.

ستانکزی: افغانستان تا پایان سال ۲۰۲۲ حدود صد مسابقه جهانی خواهد داشت

شفیق الله ستانکزی رییس اجراییه کریکت بورد افغانستان امروز طی یک کنفرانس مطبوعاتی، برنامه بازی‌های آینده تیم ملی کرکت یا (FTP) را تشریح کرد.

آقای ستانکزی گفت که تیم ملی کریکت از سال ۲۰۱۹ برنامه‌های (FTP) را آغاز می‌کند و این روند تا ماه جنوری سال ۲۰۲۳ ادامه پیدا خواهد کرد.

وی گفت تمام حقوق نشراتی این مسابقات از طریق رقابت آزاد به فروش رسیده که یک منبع عایداتی خوب برای کرکت بورد افغانستان می‌باشد.

رییس اجراییه گفت «تا ماه جنوری سال ۲۰۲۳ میلادی ۴۸ رقابت یک روزه داریم ۲۳ مسابقه به میزبانی ما صورت می‌گیرد به همین منوال ۳۹ مسابقه ۲۰ آوره داریم که در ۱۸ مسابقه ما میزبانی مسابقات را به عهده خواهیم داشت و ۱۳ تیست داریم که ۷ آن به میزبانی ما صورت می‌گیرد.»

شفیق‌الله ستانکزی افزود که در این مدت یک لیگ بازی‌های یک روزه نیز داریم که افغانستان میزبانی ایرلند، هالند، استرالیا و پاکستان را خواهد کرد و سریلانکا، بنگله‌دیش، هندوستان و زمبابوی از افغانستان میزبانی خواهد کرد طی این رقابت‌ها افغانستان با هر تیم سه مسابقه خواهد داشت و در مجموع تعداد مسابقات به ۲۴ خواهد رسید.

شفیق الله ستانکزی افزود: «وقتی این بازیها به پایان برسد ۸ تیم برتر که بر اساس نمرات جدول انتخاب خواهند شد مستقیماً به جام جهانی ۲۰۲۳ راه خواهد یافت و ۵ تیم باقی مانده در مسابقات راه یابی شرکت خواهند کرد.»

تیم ملی افغانستان به تاریخ ۲۱ فبروری سال ۲۰۱۹ از ایرلند میزبانی خواهد کرد که این بازی‌ها شامل یک تیست، ۵ مسابقه یک روزه و ۳ مسابقه بیست آوره خواهد بود. در ماه می با کشور سکاتلند ۲ مسابقه یک روزه خواهیم داشت، به همین طور در همین ماه به خاطر آمادگی جام جهانی با ایرلند ۳ مسابقه یک روزه در انتظار تیم افغانستان است.

در ماه‌های می و جولای افغانستان در جام جهانی شرکت خواهد کرد که ۲ مسابقه آزمایشی در مقابل پاکستان و انگلستان خواهد داشت و بعداً با هر تیم یک مسابقه خواهد داشت که در مجموع ۹ مسابقه می‌شود؛ در ماه‌های اگست زمبابوی برای یک تیست؛ ۵ بازی یک روزه و ۳ بازی ۲۰ اوره میزبان تیم افغانستان خواهد بود؛ در ماهای سپتمبر و اکتوبر بنگله‌دیش برای یک تیست و سه مسابقه ۲۰ اوره میزبان تیم افغانستان خواهد بود. در ماه نومبر افغانستان در یک مسابقه تیست؛ ۳ مسابقه یک روزه و سه مسابقه ۲۰ اوره میزبانی خواهد کرد.

تیم ملی افغانستان در ماه فبروری و مارچ سال ۲۰۲۰ در دو تیست و ۳ مسابقه ۲۰ آوره میزبان ایرلند خواهد بود. در اگست همین سال ایرلند میزبانی یک بازی تیست و سه بازی۲۰ آوره را با تیم افغانستان خواهد داشت.

مسابقات جام آسیا نیز در ماه سپتمبر همین سال آغاز می‌شود که بعد از آن مسابقات ۲۰آوره جام بین المللی در اکتوبر و نومبر در استرالیا آغاز می‌شود. برعلاوه آن بازیکنان ملی مسابقه تیست نیز در نومبر همین سال با استرالیا خواهد داشت.

در جنوری و فبروری سال ۲۰۲۱میلادی افغانستان بار دیگر میزبانی سه مسابقه ۲۰آوره و سه مسابقه یک روزه را به عهده دارد. در فبروری

نیز افغانستان به میزبانی خود دو بازی تیست و ۳ بازی ۲۰ آوره مقابل زمبابوی دارد. در ماه مارچ سال ذکر شده هند در سه بازی یک روزه از افغانستان میزبانی می‌کند. در ماه جولای کشور سریلانکا نیز در سه بازی یک روزه و ۳ بازی ۲۰آوره از افغانستان میزبانی می‌کند.

افغانستان هم چنان در ماه سپتامبر نیز در سه بازی یک روزه از پاکستان میزبانی می‌کند. جام جهانی در ماه های اکتوبر و نوامبر در کشور هند برگزار می‌شود. کشور زمبابوی نیز در ماه دسمبر همین سال و ماه جنوری سال ۲۰۲۲ برای یک بازی تیست، سه بازی یک روزه و سه بازی ۲۰آوره از افغانستان میزبانی خواهد کرد.

افغانستان در ماه جنوری نیز با کشور هالند سه مسابقه یک روزه و سه مسابقه۲۰ آوره دارد.

ضمن آن کشور بنگله دیش نیز در ماه فبروری در سه بازی یک روزه و سه بازی ۲۰ آوره از افغانستان میزبانی می‌کند. افغانستان در ماه مارچ نیز با کشور استرالیا سه بازی یک روزه دارد. برعلاوه آن کشور ایرلند از افغانستان در یک مسابقه تیست، سه بازی یک روزه و سه بازی ۲۰آوره میزبانی می‌کند و تیم افغانستان نیز در ماه سپتمبر در یک بازی تیست از استرالیا میزبانی می‌کند.

در ماه سپتامبر همین سال مسابقات جام اسیا نیز آغاز می‌شود و ویست انديز در جنوری سال ۲۰۲۳ میلادی در سه مسابقه یک روزه از افغانستان میزبانی می‌کند، هم چنان نیوزلند نیز در همین ماه در سه بازی یک روزه به مصاف افغانستان می‌رود که بعد از آن مسابقات جام جهانی در ماه مارچ سال ۲۰۲۳ در کشور هندوستان آغاز می‌شود.

قابل یادآوری است که در این تقسیم اوقات مسابقات بیست آوره و یک روزه جام‌های جهانی شورای بین المللی کریکت و مسابقات شورای آسیایی شامل نمی‌باشد که با این کار تعداد مسابقات بیشتر می‌شود.

افغانستان در ماه فبروری سال جاری به مصاف ایرلند می‌رود

کریکت بورد افغانستان ماه آینده سال جاری میلادی میزبان سیریز (سلسله) یک ماهه مسابقات مقابل ایرلند میباشد که قرار است در این سلسله سه مسابقه بیست آوره، پنج مسابقه یک روزه و یک مسابقه تیست برگزار شود و این مسابقات تاریخ ۲۱ ماه فبروری آغاز و تا ۱۹مارچ در استدیوم بین المللی راجیو گاندی شهر دهرادون هندوستان ادامه پیدا میکند.

باید یادآور شد از زمانیکه افغانستان و ایرلند در سال ۲۰۱۷ اجازه بازی کریکت تیست را بدست آورد؛ این نخستین بازی تیست میان این دو کشور میباشد و این درحالی است که افغانستان اولین بازی تیست خود را مقابل تیم هندوستان و ایرلند اولین بازی تیست را در برابر تیم پاکستان انجام داده است.

تیم ایرلند تاریخ ۱۸فبروری سال جاری وارد هندوستان خواهد شد.

تقسیم اوقات مسابقات

- مسابقه اول ۲۰آوره- تاریخ ۲۱ فبروری، ۲۰۱۹
- مسابقه دوم ۲۰آوره- تاریخ ۲۳ فبروری، ۲۰۱۹
- مسابقه سوم ۲۰آوره- ۲۴فبروری، ۲۰۱۹
- مسابقه اول یک روزه- ۲۸ فبروری، ۲۰۱۹
- مسابقه دوم یک روزه- ۲ مارچ، ۲۰۱۹
- مسابقه سوم یک روزه- ۵ مارچ، ۲۰۱۹
- مسابقه چهارم یک روزه- ۸ مارچ، ۲۰۱۹
- مسابقه پنجم یک روزه- ۱۰مارچ سال ۲۰۱۹
- یگانه مسابقه تیست- از تاریخ ۱۵ مارچ الی ۱۹ مارچ، ۲۰۱۹

شفیق الله ستانکزی رییس اجراییه کریکت بورد افغانستان از مشخص شدن تاریخ این سلسله مسابقات استقبال کرده گفت: ((ما در ابتدا در نظر داشتیم که این سلسله را تاریخ ۲۳ مارچ پایان دهیم، اما باید در نظر گرفت که این تاریخ با آغاز لیگ برتر هندوستان (IPL) در تضاد است که در آن سه بازیکن موفق افغانستان نیز اشتراک میکنند، پس ناگذیر هستیم تا این سلسله را باید از تاریخ یاد شده چند روز پیش خاتمه دهیم، و ما همچنان از اداره کریکت ایرلند شکرگذار هستیم که در این راستا عذر ما را پذیرفتن، این سیریز برای افغانستان از ارزش خاص برخوردار است، از خاطریکه ما برای مسابقات سال ۲۰۱۹ میلادی در حال آمادگی هستیم، باور دارم که هر دو تیم بازی های خوبی را انجام خواهد داد.))

همچنان وارن دیوترم رییس اجراییه اداره کریکت ایرلند گفت: ((مسابقات میان افغانستان و ایرلند از اهمیت خاص برخوردار است، امیدوار هستم که تماشه چیان و طرفداران این دو تیم این فرصت خوب را از دست ندهند، ما ارزوی یک سیریز باشکوه داریم و همچنان باید بگویم که این بازی تیست اولین بازی تیست ایرلند به بیرون از کشور نیز میباشد.))

قابل یادآوری است که افغانستان در درجه بندی شورای بین المللی کریکت در ساختار مسابقات ۲۰آوره مقام هشتم و ساختار یک روزه مقام دهم را از آن خود نموده و ایرلند در مسابقات ۲۰ آوره مقام ۱۷ و یک روزه مقام ۱۲ دارد و هدف اساسی این دو تیم نیز بدست آوردن نمرات بیشتر و کسب مقام خوبتر است.

احمدشاه سیلمانخېل د کورني کرکټ د مدیر په توګه معرفي شو

د افغانستان کرکټ بورډ د غوراوي او ورپسې د ډسپلین کمېټې پخوانی غړی احمدشاه سلیمانخېل د یو لړ مراسمو په ترځ کې د کرکټ بورډ اداري د کورني کرکټ څانګې د نوي مدیر په توګه په دنده وګومارل شو.

د افغانستان کرکټ بورډ عمومي رئیس عزیزالله فضلي د سلیمانخېل د پېژندغونډې په مراسمو کې وویل، کورنی کرکټ د ملي لوبډلو د جوړښت او نوو استعدادونو د موندنې لپاره خورا اړین دی نو په همدې موخه یې دغه بدلون رامنځته کړ.

ښاغلي فضلي زیاته کړه: ((۲۰۱۹ زیږدیز کال کې د کورني کرکټ د پرمختګ لپاره منظم او ګڼ پروګرامونه جوړ شوي چې په پلې کېدو سره به یې کورنی کرکټ تر هر وخت ښه وغوړیږي.))

ښاغلي فضلي، د احمدشاه سلیمانخېل تېرو کړنو ته په اشارې سره وویل چې نوموړی تر دې دمه پخپلو کړنو کې بریالی و او هیله ترې لري چې نوې ورسپارل شوې دنده به هم په ډېره ښه توګه ترسره کړي.

د کورني کرکټ نوي مدیر احمدشاه سلیمانخیل د کرکټ بورډ له مشرتابه مننه وکړه او ترځنګ یې ډاډ ورکړ چې د کورني کرکټ په وده کې به نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړي.

د یادولو ده چې له دې وړاندې هستي ګل عابد د کورني کرکټ د مسوول مدیر په توګه دنده ترسره کوله.

افغانستان به د روان کال په مې کې د سکاټلنډ سره مخ شي

افغانستان به د روان ۲۰۱۹ زیږدیز کال د مې میاشتې په اتمه او ۱۰مه نېټه، د سکاټلنډ هېواد د ایډینبرا ښار په ګرېنج لوبغالي کې د یو بل پر وړاندې دوه نړیوالې یو ورځنۍ لوبې وکړي.

افغانستان له دې وړاندې هم په یاد لوبغالي کې د ۲۰۱٦ کال په جولای میاشت کې د مهالوېش له مخې، د سکاټلنډ پر وړاندې دوه نړیوالې یو ورځنۍ لوبې درلودې. که څه هم د یادې لړۍ یوه لوبه د باران ورښت له امله لغوه شوه، خو بیا هم افغانستان په دویمه نړیواله یو ورځنۍ لوبه کې دغه هېواد ته د ۷۸ منډو په توپیر ستره ماتې ورکړې وه.

خو یاد هېواد بیا په زمبابوې کې د کرکټ نړیوال جام د غوراوي سیالیو په لړ کې د افغانستان پر وړاندې ډېره ښه لوبه وکړه او د افغانستان له لوري د ۲۵٦ منډو ټاکل شوی هدف یې په ۴۷ اورونو کې پوره کړ.

د افغانستان کرکټ بورډ اجراییه رییس شفیق الله ستانکزي د سیالیو د نېټې کره کېدو په اړه وویل: ((خوشاله یو چې د ۲۰۱۹ کال په مې میاشت کې د سکاټلنډ پر وړاندې د دوه نړیوالو یو ورځنیو لوبو لړۍ لرو چې د هوا حالاتو له اړخه هم د لوبو لپاره تر ټولو مناسب وخت دی. دغه لوبې له افغانستان سره په انګلستان او ویلز کې د ۲۰۱۹ نړیوال جام یو ورځنیو لوبو په برخه کې د چمتووالي له اړخه هم ګټورې دي. سکاټلنډ لوبډله تکړه لوبغاړي لري او پخوا هم موږ ورسره ډېرې غوره سیالۍ کړې دي او په دې هیله چې د سکاټلنډ پر وړاندې ښې او غوره لوبې وکړو او دغه لوبلړۍ په خپل نوم کړو.))

دغه راز د سکاټلنډ کرکټ اجراییه رییس مالکم کانن هم وویل: ((دا یو فوق العاده خبر دی چې د افغانستان په ګډون دوه بشپړ غړیتوب لرونکي هېوادونه له سکاټلنډ سره سږ کال په اوړي کې لوبې کوي او موږ ډېر خوشاله یو چې د مې په میاشت کې د افغانستان پر وړاندې نړیوالې لوبې کوو. موږ د دوی پر وړاندې په دې وروستیو کلونو کې سختې لوبې درلودې او دې ته سترګې پر لاره یو چې د افغانستان پر وړاندې یوځل بیا ننګوونکې نړیوالې لوبې وکړو.))

د کورني کرکټ لوبو او فعالیتونو کلنی پلان اعلان شو

د افغانستان کرکټ بورډ اجراییه رییس شفیق الله ستانکزي د یوې خبري ناستې پر مهال د راتلونکي لوبیز پروګرام سربېره د کورني کرکټ د لوبو پر راتلونکي برنامو او پلان خبرې وکړې چې په ترڅ کې یې د کورني کرکټ د ۲۰۱۹ کال مهالوېش له رسنیو سره شریک کړ.

ښاغلي ستانکزي په دغه غونډه کې وویل، غواړي د ښوونځیو او کلب کچې سیالیو ته پرمختګ ورکړي او دغه راز د زونونو صلاحیتونه ورډېر کړي، څو له زونونو په عمومي کچه استعدادونه راجذب شي.

نوموړي دغه راز د روانو دوه ورځنیو سیالیو هم یادونه وکړه او ویې ویل، چې له همدې وروسته درې ورځنۍ سیالۍ پیلېږي او دغه راز په پام کې ده چې یادې لړۍ ته پرمختګ ورکړي او څلور ورځنۍ سیالۍ هم ترسره شي، څو په فرسټ کلاس سیالیو کې د نورو شته لوبغاړو ترڅنګ له همدې سیالیو هم لوبغاړي را جذب کړو.

د یادولو ده چې دوه ورځنۍ سیالۍ د جنوري میاشتې په ۱۱مه پیل شوې او له پای ته رسېدو وروسته فبروري کې په سپین غر زون کې درې ورځنۍ ولایتي سیالۍ د میرویس خان تر عنوان لاندې پیل شي او د مارچ تر لومړیو به دوام ومومي؛ افغانستان کرکټ بورډ به نږدې راتلونکي کې دغو سیالیو ته د فرسټ کلاس لوبو د دریځ ورکولو په موخه د کرکټ له نړیوالې شورا څخه غوښتنه وکړي.

ورپسې به د مارچ په دریمه او څلورمه اونیو کې د څلور ورځنیو فرسټ کلاس سیالیو لپاره چمتووالی او کمپ پیل شي.

اپریل میاشت کې به د احمدشاه ابدالي تر عنوان لاندې د فرسټ کلاس سیالیو څلور ورځنیو لوبو لومړی پړاو هم په کابل، خوست او کندهار ولایتونو کې پیل شي.

دغه راز به په جون میاشت کې د پنځوس اوریزو لوبو د چلنج کپ لومړی پړاو هم پیل شي او ورپسې به په یاده میاشت کې د چلنج کپ دویم پړاو پیلېږي. په جولای میاشت کې به ولایتي ایلیټ جام پیل شي او سربېره پر دې به په دریمه اونۍ کې د زونونو په کچه د لیسټ اې سیالیو لپاره چمتووالی او کمپ پیلېږي.

اګست میاشت کې به د زونونو په کچه د لېسټ اې یو ورځنۍ لوبې پیل شي، ورپسې به په دویمه اونۍ کې چمتووالی او کمپ نیول کېږي او په دریمه او څلورمه اونیو کې به د شپږیزې لیګ ترسره شي.

په سېټمبر میاشت کې به زونونه د یو بل پر وړاندې سیالۍ ترسره کړي چې کوربه توب به یې د اړوندو زونونو پر غاړه وي.

د همدې کال په اکټوبر میاشت کې به د افغانستان شل اوریز غوره لیګ پیل او پای مومي او همدارنګه به په نومبر او ډسمبر میاشتو کې د فرسټ کلاس څلور ورځنیو لوبو دویم پړاو پیل شي.

دغه راز د یادولو ده چې د افغانستان کرکټ بورډ د نوو او پټو استعدادونو لپاره د افغانستان په کچه خپله لوبیزه لړۍ جاري ساتي او له همدې لارو به نوي پټ استعدادونه راپیدا کوي، څو په لوبیز جوړښت کې اوسنۍ شته نیمګړتیاوې پوره شي او افغانستان له هره اړخه پیاوړې لوبډله ولري.

411 معلومات INFORMATION

ستاسو دمعلوماتو نړۍ

معلومات۴۱۱، دعمومي معلوماتو ځانګه د مسلکي
او تجربه لرونکو استازو په لرلو د اړینو او کره
معلوماتو په وړاندي کولو سره ۲۴ ساعته د خپلو
ګرانو هیوادوالو په چوپړکې ده.

همدا مهال ۴۱۱ سره اړیکه ټینګه کړئ او خپل معلومات ترلاسه کړئ.

/malomaat.af | www.malomaat.af | info@malomaat.af

RANA رنا TECHNOLOGIES

The Leading ISP/ICT Company In Afghanistan

RANA Technologies Enterprises is the leading and award winning Internet Service Provider (ISP) & Information & Communications Technology (ICT) Enterprise in Afghanistan.

Adjacent to shaheed shrine, Shahr-e-Naw, Kabul, Afghanistan | +93 (0) 798 85 85 85 | www.ranatech.com | info@ranatech.com

2019

2019 Winner of
Afghanistan
ICCCRICKET

2019 Winner of
Afghanistan
ICCCRICKET
WORLDCUP

د ملي لوبډلې له لوبډلمشر محمد اصغر افغان سره مرکه

اضغر افغان: دوه ارمانونه لرم اول دا چې افغانستان ته نړیوال جام وګټم او بل دا چې افغانان په تلپاتې سوله کې ژوند وکړي.
پوښتنه: کرکټ دې کله او څرنګه پیل کړ؟
ځواب: کرکټ مې له ډېر کوچنیوالي راهیسې پیل کړی، ۱۹۹٦ کلونو کې به زما مشرانو وروڼو او تره زامنو لوبه کوله نو هماغه و چې زما هم ورسره مینه پیدا شوه.
پوښتنه: د لومړي ځل لپاره دې چېرته کرکټ وکړ؟
ځواب: د مهاجرت په وخت کې زموږ د کور مخې ته یوه میداني و او هلته مې د لومړي ځل لپاره کرکټ پیل کړ.
پوښتنه: کرکټ ته چا ډېر هڅولی یې؟
ځواب: کرکټ ته هیچا هم نه یم هڅولی، خو وروڼو سره به مې کرکټ کاوه او هغوی به په لوبډله کې راته ډېر چانس هم راکاوه، ځکه ما به ورته ډېره ښه لوبه کوله، مور او پلار به مې هیڅ اجازه نه راکوله چې کرکټ وکړم، هغوی ویل چې تعلیم وکړم.
پوښتنه: که کرکټ لوبه دې نه کوله نو بل به داسې څه ول چې تا به ورته مخه کړې وای؟
ځواب: ډېرې زده کړې به مې کړې وای او یا هم سوداګري ځکه چې زموږ د کورنۍ ډېری غړي سوداګري کوي.
پوښتنه: د کرکټ په پیل کې دې توپ اچونه کوله که توپوهنه؟
ځواب: په پیل کې ما توپ اچونه او توپوهنه دواړه کول، خو توپوهنې ته مې ډیر وخت ورکاوه ځکه په ۲۰۰۴ م کال کې زموږ روزونکي فاروق زمان توپوهنې ته ډیر وهڅولم.
پوښتنه: کوم توپ اچونکي درته لومړی توپ کړی؟
ځواب: د نعمان په نوم یو توپ اچونکی و.
پوښتنه: په بهرنیو لوبغاړو کې دې د کوم نړیوال لوبغاړي لوبه خوښېدله؟
ځواب: په لومړیو کې مې جیسوریا او بیا وروسته د جیک کالس او محمد یوسف لوبه خوښېده.
پوښتنه: د لوبې په جریان کې دې کوم وخت توپوهنه خوښیږي؟
ځواب: کله چې لوبډله تر فشار لاندې وي او د لوبې ښه بدله کړم او دا د لوبډلمشر ښه ځانګړتیا هم وي.
پوښتنه: ستاسو په اند کوم لوبډلمشر بریالی وي؟
ځواب: لوبډلمشري ډېر ګران کار دی ځکه د یو هېواد ټول سرنوشت ستا په لاس کې وي نو باید ډېر دقیق اوسې، زما په اند هغه لوبډلمشر بریالی دی چې لوبغالي کې ځان کنټرول او لوبې ته په کتو د پلان مطابق مخې ته ولاړ شي.
پوښتنه: د خپلې لوبډلمشرۍ د پیل په ورځ دې لوبغاړو ته کوم پلان ورکړ؟
ځواب: ټولو ته مې وویل چې موږ تاسو د افغانستان بیرغ لوړولو او خپلو هېوادوالو ته د خوشحالۍ ورکولو لپاره لوبیږو، بیا هم همدا دنده مخې ته وړو او تاسو هر یو په خپل ځای کې د لوبډلمشر په څېر مسوولیت لرئ.
پوښتنه: ستاسو د لوبډلمشرۍ پرمهال افغانستان خپله لومړۍ لوبه د کوم هېواد پر وړاندې ترسره کړه او پایله یې څه وه؟
ځواب: د نړیوال جام په غوراوي پړاو سیالیو کې د ایرلنډ پروړاندې لوبه وه چې افغانستان وګټله.

پوښتنه: د خپل تخلص د بدلون لامل که راته ووایاست؟
ځواب: ځکه چې زه د افغانستان لوبډلمشر یم او باید په یوه قوم پورې اړه ونلرم، د ټولو افغانانو یم، موږ ټول افغانان یو او موږ په نړۍ کې خلک د افغان په نوم پېژني.
پوښتنه: د کومې لوبې د بایللو له امله ډېر خپه شوی یې؟
ځواب: د نړیوال جام په غوراوي پړاو لوبو کې، ځکه چې هر افغان دا هیله درلوده چې افغانستان په نړیوال جام کې ولوبیږي.
پوښتنه: د نړیوال جام غوراوي پړاو کې تاسو تازه عملیات کړي و خو بیا هم ولوبیدئ د لوبې وړاندې او وروسته څه پیښ شول؟
ځواب: دا ځواب به لږ اوږد وي، مخکې له دې چې لوبه کې ګډون وکړم ډاکټر ته ورغلم، هغه راته وویل چې اوس دې ټپونه د ښه کېدو په حال کې دي. لږ لږ قدم وهه، ما ورته وویل که لوبه وکړم په خندا شو چې دا خو امکان نلري او ډېر خطرناک کار دی. زه چې کله لوبډلې سره یوځای شوم ټولو ته مې دروغ وویل چې ماته یې د لوبې کولو اجازه راکړه، له هغې وړاندې راشد خان او محمد نبی به راته ویل چې میدان ته ستا راتګ ډیر ګټور دی، خو ما داسې پرېکړه وکړه چې افغانانو ډیره قرباني ورکړې زه هم نن که د وطن لپاره قرباني شم هیڅ پروا نه کوي او میدان ته ولاړم او لوبه مې وکړه.
پوښتنه: راتلونکي نړیوال جام ته څه پروګرام لرئ؟
ځواب: لوبډله نړیوال جام ته د چمتوالي په حال کې ده او پلان مو لومړی تر نیمه پایلوبې او بیا تر پایلوبې رسېدل دي.
پوښتنه: د سیالیو لپاره کله پلان جوړوې؟
ځواب: په اړه یې له وړاندې هم فکر کوم، خو زما ډېری پرېکړې د لوبې د جریان پر مهال کېږي.
پوښتنه: د لوبې پرمهال کومه پرېکړه ژر کوې؟
ځواب: زه هر وخت لوبې ته په کتو ژر فیصله کوم او لوبه هیڅکله نه پرېږدم او د لوبې تر وروستي توپه مقاومت کوم.
پوښتنه: په نړیوال جام کې به کومه لوبډله درته سخته تمامه شي او کومه اسانه؟
ځواب: ټولې پیاوړې لوبډلې دي او هرې لوبډله ته به پلان جوړو.

افغان صیبب په دې هیله چې په راتلونکو ټولو لوبو او نړیوال جام لوبو کې ښه وځلیږئ.
مننه، انشاءالله افغانستان ته به ویاړونه راوړو او خپلو خلکو ته خوښی.

د کرکټ بورډ د څانګو پېژندنه

د رسنیو او بازارموندنې څانګه

د افغانستان کرکټ بورډ د رسنیو او بازارموندنې څانګه یوه له ډېرو بوختو څانګو ده چې د دغې څانګې د مشر په ګډون ۱۰ کسان پکې په کار بوخت دي.

دا څانګه هڅه کوي چې د بېلابېلو سرچینو او خپرونو له لارې د افغانستان او نړیوال کرکټ په اړه کره او پر وخت معلومات خپاره کړي او د رسنیو او لوبو لپاره بازار پیدا کړي. د رسنیو او بازارموندنې څانګه له دې لارو معلومات خپروي.

فیسبوک: هغه مطالب چې لنډ لیکل شوي وي د فیسبوک له لارې خپرېږي لکه:

۱: د کورنیو او ملي لوبو لنډ خبرونه
۲: د خبرونو اپډېټ بڼې
۳: د لوبو مهالوېشونه
۴: د کرکټ اړوند خبرونه
۵: د کرکټ بورډ پیغامونه
٦: د لوبغاړو د کلیزو د مبارکۍ پیغامونه
۷: د لوبو پایلې
۸: په لوبو کې د ډېرو ځلېدلو لوبغاړو عکسونه او خبرونه
۹: د لوبو او نورو مناسبتونو پر اړه لنډ ډاکومینټري فلمونه
۱۱: شېبه په شېبه د لوبو حال خپرول او داسې نور.
۱۲: د رسنیو او بازارموندنې څانګه هممهاله په دریو ژبو پښتو، دري، او انګلیسي ژبو معلومات خپروي

ویبپاڼه:

۱:هغه راپورونه او خبرونه چې اوږده وي د کرکټ بورډ له ویبپاڼې خپرېږي.
۲: ویبپاڼه هم په دریو ژبو پښتو، دري او انګلیسي ژبو معومات خپروي.
۳: د کرکټ بورډ په اړه :
الف- په دې برخه کې د کرکټ بورډ تاریخچه راغلې .
ب- د کرکټ بورډ د رییس او اجراییه رییس پیغامونه هم دلته لوستلی شئ.
ج: د مدیرانو د بورډ اړوند خبرونه هم دلته خپرېږي.
د: د ممنوعه درملو په اړه معلومات هم همدلته وي.
۴: د رسنیزو سرچینو تر سرلیک لاندې دغه راز مطالب خوندي کیږي.
الف: د لوبو او کرکټ بورډ خبرونه
ب: د عکسونو ګالرۍ
ج: فیچرونه
د: غونډې او لوبیزې پېښې.
ی: رسنیزې خبرتیاوې.
ذ: د کرکټ بورډ مجله او نور ډېر څه.



د افغانستان کرکټ بورډ ټویټر:

په ټولنیزو رسنیو کې په افغانستان کې فیسبوک ډېر عام دی خو په نوره نړۍ کې د لوړ پروفایل لرونکي وګړي تر ډېره ټویټر کاروي د دې لپاره چې له دغو بهرنیو خلکو سره په اړیکه کې واوسو او د افغانستان کرکټ بورډ معلومات وروړسو، دې کار لپاره د رسنیو او بازارموندنې څانګه وخت په وخت له ټویټره په انګلیسي ژبه لنډ خبرونه او معلومات خپروي.

یوټیوب چېنل:

نن سبا ساینس او ټیکنالوژي داسې ځای ته رسیدلې چې د ویډیوګانو اخیستل یې ډېر اسان کړي دي او خلک ورسره لیوالتیا لري، له دې کبله د کرکټ بورډ د رسنیو او بازارموندنې څانګې په یوټیوب کې هم خپل چېنل پرانېستی چې لاندې مطالب خپروي.

الف: له لوبغاړو سره مرکې
ب: لنډ ډاکمینټري فلمونه
ج: د لوبو زړه راښکونکې شیبې

انسټا ګرام:

انسټا ګرام هم ټولنیزه رسنۍ ده چې د افغانستان کرکټ بورډ د رسنیو او بازارموندنې څانګه یې کاروي، له دغې رسنۍ څخه د جالبو عکسونو او ویډیوګانو خپرولو لپاره کار اخیستل کیږي.

د کرکټ بورډ مجله:

د کرکټ بورډ مجله چې تر اوسه په هر دوو میاشتو کې یو ځل پر ښکلي کاغذ او انځوریز ډیزاین سره خپریده سر له دې ګڼې یوه میاشتنۍ شوه.

د کرکټ بورډ مجله په پښتو، دري، او انګلیسي ژبو لیکنې خپروي چې په راز راز عکسونو پسولل شوي وي د معلوماتو ډولونه یې ګڼ دي چې یو شمېر به یې یاد کړو.

۱: د ملي لوبو خبرونه او راپورونه
۲: په لوړ معیار اخیستل شوي عکسونه
۳: له لوبغاړو سره مرکې
۴: نړیوال کرکټ
۵: د نړیوال کرکټ ریکاډونه
٦: د کرکټ د عامه پوهاوي لړۍ
۷: او داسې نور ډېر څه

د مجلې لپاره ډېری مطالب د رسنیو او بازارموندنې څانګې د همکارانو لخوا لیکل او ژباړل کیږي، د نورو رسنیو د موادو چمتو کول هم د همدې څانګې د همکارانو دنده ده.

د عکس او ویډیو اخیستلو څانګه:

د دې برخې همکاران ډېر څه ترسره کوي چې د بېلګې په ډول دغه خبرې یادولی شو.
۱: د لوبو پر مهال ویډیوګانې او عکسونه اخیستل.
۲: د غونډو، کنفرانسونو، او ورکشاپونو عکسونه اخیستل.
۳: د لنډو فلمونو (ډاکومینټریانو) لپاره ویډیوګانې اخیستل.
۴: د بېلابېلو اړتیاو پر بنسټ د لوبغاړو او کرکټ بورډ د غړو عکسونه اخیستل.
۵: له لوبډلو سره سفرونه او بهر کې عکسونه او ویډیوګانې اخیستل.
٦: له لوبغاړو او د کرکټ د مینه والو عکسونه او ویډیوګانې اخیستل.

د ډیزان برخه:

د ډیزاین برخې همکاران هم ډېر څه ډیزاینوي چې د ځینو یادونه به وکړو.

۱: د مجلې ډيزاين کول.
۲: د ستاينليکونو ډيزاينول.
۳: د بري ليکونو ډيزاينول.
۴: د لوبغاړو عکسونه ډيزاينول
۵: د لوبغاړو نوملړونه ډيزاينول.
٦: د لوبغاړو د زوکړې په مناسبت ځانګړي ډيزاينونه جوړول.
۷: د لوبو اړوند ډيزاينونه او داسې نور.
۸: د لوبو په اړه لنډ فلمونه (ډاکومينټري) جوړول.
۹: د کرکټ د پوهاوي لپاره ډاکومنټري فلمونه جوړول.
۱۰: د کرکټ بورډ د ټولنيزو رسنيو فيسبوک، ټويټر او نورو لپاره ډيزاينونه جوړول.

د بازارموندنې برخه:

د بازار موندنې برخه چې د رسنيو او بازارموندنې د مشر تر لاس لاندې کار کوي، دا برخه هم ارزښتناک کارونه کوي چې يو شمېر يې په لاندې ډول دي.
۱: په ټوله کې د کرکټ لپاره بازار موندنه.
۲: بازار ته عامه پوهاوی ورکول چې کرکټ بورډ ورته د بازار موندنې په برخه کې څه لري.
۳: د عامه پوهاوي په رڼا کې د پلور وړ توکي پلورل.
۴: د تمويلونکو مديريت کول.
الف: له شته تمويلونکو د کارونو مديريت کول.
ب: د نويو تمويلونکو موندل او د هغوی د کارونو مديريت کول.

د رسنيو او بازار موندنې د څانګې يو شمېر نور فعاليتونه:

۱: د خبريالانو د پوهاوي پروګرام
په دې ترڅ کې د رسنيو او بازارموندنې څانګه د افغانستان په بېلابېلو زونونو کې د کرکټ د پوهاوي پروګرامونه جوړوي چې تر ډېره ورزشي خبريالان ورته بلل کېږي په دغه پروګرام کې د افغانستان او نړيوال کرکټ په بېلو اړخونو او ورزشي خبريالی په اړه معلومات ورکول کېږي، د رسنيو او بازارموندنې څانګې په نږدې تېر ميلادي کال کې په مرکزي زون، ختيځ زون، امو زون او بست زون کې دغه پروګرامونه په برياليتوب سره ترسره کړل.
۲: د عامه خلکو د پوهاوي پروګرامونه:
په دغه پروګرام کې د رسنيو او بازارموندنې څانګې همکاران بېلابېلو ولايتونو ته ځي او هلته له چارواکو قومي مشرانو، د ښوونځيو له زده کوونکو او ځوانانو سره ګوري او د کرکټ په اړه پوهاوی ورکول کېږي تير ميلادي کال دغه پروګرام د مس عينک په خوست ولايت کې هم ترسره شو، خو تر ډېره پکې هغه ولايتونو ته سفر کېږي چې کرکټ پکې ښه وده نه ده کړې او موخه يې دا ده چې د افغانستان ټولو ولايتونو ته کرکټ وغځيږي، په دې لړ کې په نږدې تېر مهال کې د بند امير زون

باميان ولايت د امو زون فارياب ولايت او د بست زون هرات ولايت ته سفرونه شوي دي.
۳: ټاون هال غونډې
په دغو غونډو چې له افغان تلويزونونو په يوه تلويزون کې جوړيږي د کرکټ بورډ د بېلو څانګو مشران پکې د راغليو لسګونو مېلمنو پوښتنو ته ځوابونه وايي او بيا د تلويزيون له لارې خپريږي.
۴: له رسنيو سره د همغږۍ غونډې جوړول
په دغه راز غونډو کې د رسنيو او بازارموندنې د څانګې همکاران د رسنيو له مديرانو سره کېني او په دې خبرې کوي چې څنګه کېدای شي د کرکټ خبرونه په اغېزناک ډول خپاره شي او د کرکټ بورډ او رسنيو ترمنځ شته اړيکي لاپسې ټينګې شي.
۵: رسنيو ته د نويو پرمختګونو، او غونډو په اړه رسنيزې خبرتياوې استول.
٦: د بېلابېلو رسنيو سره د کرکټ بورډ د وياند مرکې چې د رسنيو او بازارموندنې د څانګې لخوا تنظميږي.
ياده شوې څانګه هڅه کوي چې د رسنيو په دې تاوده بازار کې خپل فعاليتونه نور هم پراخ او اغېزناک کړي، او د خپلو رسنيو او پروګرامونو له لارې کرکټ نور هم دود کړي او د افغان او نړيوال کرکټ حال په اغېزناک ډول له رسنيو او مينوالو سره شريک کړي.
۷: له اړوند څانګو سره پر همغږۍ د کرکټ بورډ ادارې د کلني راپور چمتو کول او د رسنيو او بازارموندنې په څانګه کې د عامه اړيکو برابرول او يو شمېر نور موارد هم شامل دي.
سترګې پر لاره اوسئ



BATSMEN	Cheteshwar Pujara	Rishabh Pant	Virat Kohli
Matches	4	4	4
Innings	7	7	7
Runs	521	350	282
Highest	193	159*	123
Average	74.42	58.33	40.28

BOWLERS	Jasprit Bumrah	Mohammed Shami	Ishant Sharma
Matches	4	4	3
Wickets	21	16	11
BBI	6/33	6/56	4/41
BBM	9/86	6/136	5/86
Average	17.00	26.18	23.81
Economy	2.27	3.06	2.54

هند د لومړي ځل لپاره استرالیا ته په خپل کور کې ماتې ورکړه

هند د ویرات کوهلي په لوبډلمشرۍ د لومړي ځل لپاره په استرالیا کې له هغه هېواد ټیسټ سیریز وګاټه. دا یوازې د هند خبره نه ده، بلکې ویرات کوهلي د اسیا لومړی لوبډلمشر شو چې استرالیا یې په کور دننه په ټیسټ کرکټ کې ماته کړه.
هند له استرالیا سره د لومړني ځل لپاره په هغه هېواد کې د ۵ ټیسټونو سیریز په ۱۹۴۷-۴۸ زېږدیز کې کړی و، چې استرالیا د صفر په مقابله کې د ۴ ټیسټ لوبو په ګټلو سره برلاسي خپله کړې وه.
په استرالیا کې د دواړو هېوادونو د ۴ ټیسټ لوبو دویم سېریز په ۱۹۶۷-۶۸م کې ترسره شوی و چې څلور- صفر استرالیا ګټلی وې.
دغه راز دواړه لوبډلې یوځل بیا په استرالیا کې د دریم ځل لپاره په ۱۹۷۷-۷۸م کې له یوه بل سره مخامخ شوې او ۵ ټیسټ لوبې یې وکړې چې۳-۲ استرالیا وګټلې.
په۱۹۸۰-۸۱ م کې د څلورم ځل لپاره دواړه لوبډلې د ۳ ټیسټونو په سیریز کې سره مخامخ شوې چې دا سیریز ۱-۱ پرته له ګټې بیلاته ډرا شو.
په ۱۹۸۵-۸۶ م کلونو کې بیا دواړو لوبډلو د پنځم ځل لپاره په استرالیا کې ۳ ټیسټونه وکړل چې پرته د چا له ګټې صفر- صفر پای ته ورسیدل.
په ۱۹۹۱ – ۹۲ م کلونو کې د شپږم ځل لپاره دواړو لوبډلو په استرالیا کې ټیسټ سیریز ترسره کړ چې څلور- صفر استرالیا وګاټه.
په ۱۹۹۹ م کال کې بیا دواړه لوبډلې د اووم ځل لپاره د ۳ ټیسټ لوبو په یوه سېریز کې مخامخ شوې چې درې - صفر استرالیا په کور دننه وګاټه.
همدارنګه د اتم ځل لپاره په ۲۰۰۳-۰۴م کلونو کې دواړه لوبډلې په استرالیا کې د یو بل پر وړاندې مخامخ شوې او ټیسټ لوبې یې وکړې چې دا سیریز بیا ۱-۱ په مساوي توګه پای ته ورسېده.
د نهم ځل لپاره استرالیا او هند په په ۲۰۰۷ م کلونو کې په استرالیا کې ۴ ټیسټ لوبې وکړې

چې ۲ـ۱ استرالیا وګټلې.
د لسم ځل لپاره هند او استرالیا په ۲۰۱۱-۱۲م کلونو هم په استرالیا کې ۴ ټیسټ لوبې وکړې، چې څلور- صفر استرالیا وګټلې.
په ۲۰۱۴-۱۵م کلونو کې بیا دواړه لوبډلې د ۱۱ ځل لپاره د ۴ ټسټ لوبو په یوه سیریز کې په استرالیا کې مخامخ شوې چې دوه ـ صفر استرالیا هند ته ماتې ورکړه.
او په پای کې په ۲۰۱۸-۱۹م کلونو کې هند او استرالیا هم د استرالیا پر خاوره په ۱۲ ام ټیسټ سیریز کې مخامخ شوې او ۴ ټیسټ لوبې یې وکړې چې دا سیریز ۲-۱ هند وګټه او تاریخي بری یې په برخه شو.
د یادولو ده چې په دغه لیکنه کې یوازې له هغو سېریزونو یادونه شوې چې د استرالیا په کوربه توب ترسره شوي او د هندوستان او استرالیا ترمنځ وروستۍ ټیسټ لوبه هم په استرالیا کې ترسره شوې چې هندوستان، استرالیا ته په خپل کور کې د لومړي ځل لپاره ماتې ورکړه.

د کرکټ جالب ریکارډونه

اقتصادي توپ اچونه:

په ۱۹۹۲ زېږدیز کال کې په سیډني کې د ویسټ انډیز توپ اچوونکي سیمینز ۱۰ اورونه توپ اچونه وکړه چې په ۸ اورونو کې یې هیڅ منډه جوړه نه شوه یانې (میډن) و. نوموړي ۳ منډې ورکړې او ۴ لوبغاړي یې وسوځول دا د یو ورځنیو لوبو په تاریخ کې تر ټولو اقتصادي توپ اچونه ده.

دقیقه توپ اچونه:

د ویسټ انډیز مایکل هولډنګ ۵۴۷۳ داسې توپونه اچولي یانې تر ۹۰۰ ډېر اورونه یې کړي چې په هغو کې یې یو پراخ (وایډبال) هم نه دی کړی.

په ډیرو منډو ماتې:

په ۱۹٦۴ زېږدیز کال کې د پاکستان په ډومیسټیک (کورني) کرکټ کې پاکستان ریلوې د ډیره اسماعیل خان لوبډلې ته په ۸۵۱ منډو ماتې ورکړه، د ریلوې لوبډلمشر بشیر حیدر پچه وګټله او د توپوهنې پرېکړه یې وکړه او په ټوله کې یې ۹۱۰ منډې وکړې چې په ځواب کې یې سیالې لوبډلې په لومړي انګز کې ۳۲ او په دویم انګز کې یوازې ۲۷ منډې ترسره کړې او لوبه یې وبایلله.

تر ټولو ډېرې پرلپسې ټیسټ لوبې:

د استرالیا پخواني لوبډلمشر ایلن بارډر په پرلپسې ډول ۱۵۳ ټیسټ لوبې کړې دي چې یو نړیوال ریکارډ دی تر هغه وروسته د هغه د بل هېوادوال سټیوا نوم راځي چې په پرلپسې ډول یې، ۱۰۷ ټیسټ لوبې کړې دي.

په ډېر عمر کې لومړنی ټیسټ:

جیمز ساوتهرټن د ۴۹ کلونو او ۱۱۹ ورځو و چې د انګلستان له خوا یې خپل لومړنی ټیسټ ولوبوه چې دا یو نړیوال ریکارډ دی.

په لوبړۍ (سېریز) کې تر ټولو ډېرې ویکټې اخیستل:

سډني هارنز هغه لیګ ورو توپ اچونکی و چې په ۱۹۱۳ـ۱۴ م کې یې د سویلي افریقا پر وړاندې د ۴ ټیسټونو په لوبړۍ کې ۴۹ ویکټې واخیستې. په دې سیریز کې نوموړي، ۷ ځلې ۵ ویکټې واخیستې. تر نوموړي



وروسته د انګلستان د جم لیکر نوم راځي چې په یوه لوبړۍ کې یې، ۴٦ ویکټې اخیستې وې. هغه دا لاسته راوړنه په ۱۹۵٦ کال کې د استرالیا پر وړاندې په ایشز سیریز کې لرله.

تر جم لیکر وروسته د استرالیا د شین وارن نوم راځي چې په ۲۰۰۵ زېږدیز کال کې یې په ایشز سېریز کې د انګلستان پر وړاندې، ۴۰ ویکټې اخیستې وې.

په لومړني ټیسټ کې غبرګه سلیزه:

د ویسټ انډیز توپوهونکي لارنس ای په خپل لومړني ټیسټ کې د ویسټ انډیز لخوا د نیوزلنډ پر وړاندې په لومړي انګز کې ۲۱۴ او په دویم انګز کې ۱۰۰ منډې کړې وې دا ټیسټ لوبه په -۱۹۷۱ ۷۲ کلونو کې شوې وه. تر هغه راوروسته د پاکستان یاسر حمید په ۲۰۰۳ کال کې د بنګله دیش پر وړاندې په خپله لومړنۍ ټیسټ لوبه کې په لومړي انګز کې ۱۰۷ او په دویم انګز کې ۱۰۵ منډې کړې وې.

د لسو منډو په ورکولو سره ۱۰ ویکټې اخیستل:

په ۱۹۳۲زېږدیز کال کې د یارک شایر کاونټۍ هیډلي ورټې د ناټنګم شایر پر وړاندې د ۱۰ منډو په ورکولو سره ۱۰ ویکټې واخیستې چې یو نړیوال ریکارډ دی، هغه دا ویاړ هم لري چې بریډمین یې له یو ځله ډېر سوځولی دی.

په یوه انګز کې تر ټولو ډېره توپ اچونه:

په ۱۹۵۷زېږدیز کال په ایجسټن کې سني رام دین د انګلستان پر وړاندې ۵۸۸ توپونه یانې ۹۸ اورونه کړي وو له هغه پرته بل کوم توپ اچوونکي تر ۹۰ ډیر اورونه نه دي کړي.

تر ټولو لنډه ټیسټ لوبه:

ټیسټ پنځه ورځنۍ لوبه وي خو داسې ټیسټ لوبه هم شوې چې یوازې ۵ ساعتونه او ۵۳ دقیقې روانه وه. دا لوبه د سویلي افریقې او استرالیا تر منځ شوې وه، سویلي افریقې په خپل لومړي انګز کې ۳۸ منډې وکړې او ټول لوبغاړي یې وسوځیدل په ځواب کې یې استرالیا ۱۵۳ منډې وکړې ورپسې د سویلي افریقې لوبډله بیا د ۴۵ منډو تر جوړولو وروسته وسوځیده او په دې توګه دا د کرکټ د تاریخ تر ټولو لنډه ټیسټ لوبه شوه.

یو شمېر منفي ریکارډونه

سست ترینه سلیزه:
دا ریکارډ د پاکستان د پخواني ټیسټ لوبغاړي مدثر نذر په نوم ثبت دی، هغه په ۱۹۷۷-۷۸ م کال کې په لاهور کې د انګلستان پر وړاندې نردې په ۹ نیمو ساعتونو کې خپله سلیزه پوره کړه چې یو نړیوال ریکارډ دی.

تر ټولو خرابه توپ اچونه:
د سویلي افریقا لوبغاړي عمران طاهر په ۲۰۱۲ م کال د استرالیا پر وړاندې یوې ټیسټ لوبې کې په ۳۷ اورونو کې ۲٦۷ منډې ورکړې وې او یوه ویکټه یې هم نه وه اخیستې.

د یو ورځنیو لوبو تر ټولو اوږد اوور:
د پاکستان محمد سمیع د ۲۰۰۴ م کال په اسیا جام سیالیو کې نردې د دریو اورونو په کچه اور وکړ، هغه په یوه اور کې ۱۷ توپونه واچول چې اووه پراخ (وایډ) او ۴ نو بالونه یې پکې کړي وو.

د ټیسټ لوبو اوږد اوور:
د ویسټ انډیز نومیالي توپ اچوونکي کرټلي ایمبروز په ۱۹۹۳ م کال کې د استرالیا پر وړاندې په یوه ټیسټ لوبه کې د ۱۵ توپونو اور وکړ چې ۹ توپونه یې نوبال وو.

د ډېرو منډو ټیسټ اور:
بریتانوي توپ اچوونکي جیمي اینډرسن د ټیسټ لوبې په یوه اور کې د ۲۸ منډو په ورکولو سره نړیوال ریکارډ جوړ کړ. د سویلي افریقا رابرټ پیټرسن هم په یوه اور کې ۲۸ منډې ورکړې دي.

تر ټولو ډېر کلین بولډ سوځول:
د هند مشهور توپ وهونکی راهول ډریوډ په ټیسټ کرکټ کې ۵۴ ځل کلین بولډ اوټ شوی دی چې یو ریکارډ دی، تر هغه وروسته د استرالیا ایلن بارډر او په دریم نمبر د هند سچن تینډولکر په ټیسټ کې تر ټولو ډېر کلین بولډ شوی دی.

یو شمېر منفي ریکارډونه

په ټیسټ کرکټ کې ډېر ځله په صفر سوځیدلي:
د ویسټ انډیز مشهور چټک توپ اچوونکی کورټني واش په توپوهنه کې هم یو نړیوال ریکارډ لري او هغه دا چې نوموړی په ټیسټ کرکټ کې ۱۸۵ ځله په صفر سوځېدلی دی.

په یو ورځنیو لوبو کې ډېر ځله په صفر سوځېدلی:
د سریلانکا جی سوریا په یو ورځنیو لوبو کې د چټکې نیمه سلیزې ریکارډ درلود، خو دغه نومیالی توپ وهونکی هم په یو ورځنیو لوبو کې ۳۴ ځله د صفر ښکار شوی دی چې دا هم یو نړیوال ریکارډ دی.

شاهد اپریدی چې تر ډیرو کلونو په یو ورځنیو لوبو کې د چټکې سلیزې ریکارډ ورسره و، ۳۰ ځلې په یو ورځنیو لوبو کې پرته د کومې منډې له جوړولو په صفر سوځیدلی دی.

د پاکستان چټک توپ اچوونکی وسیم اکرم دریم ځای لري هغه په یو ورځنیو لوبو کې ۲۸ ځلې په صفر سوځیدلی دی.

پام وړ صفر:
د انګلستان الستیر کوک د نړۍ یوازیني توپ وهونکی دی چې په خپل ۱۰۰ ام ټیسټ کې د لومړني ځل لپاره په صفر سوځیدلی دی.

د کرکټ لوبې پیل

د کرکټ د پیل په اړه دا خبره باوري ده چې له اروپا شوی دی، ځکه چې دا اندازه د ۱۲مې او ۱۳ مې زېږدیزې پیړۍ له یوه داسې تابلو کیږي چې یو هلک پکې یو هوار لرګی او بل هلک په لاس کې توپ نیولی دی. دا تابلو د ۱۲۳۰ زېږدیز کال ده، د کرکټ مستندې لیکنې په حواله د انګلستان د پاچا ایډوارډ ایویل د وخت ده چې هغه نه یوازې دا چې له ګریګ نومې لوبې سره لیوالتیا لرله، بلکې خپله یې هم پکې ونډه اخیسته.
د اکسفورډ په بولډلین کتابتون کې یوه داسې تابلو شته چې یوه ښځه پکې یوه نارینه ته توپ اچوي او نارینه د ګزار لپاره بیټ ډوله لرګی اوچت کړی دی، له دوی نه په څه ناڅه واټن سره یو شمېر نورې ښځې او نارینه د توپ د کیچ کولو یا نیولو لپاره ولاړ دي.
پرته له دې د کرکټ بل پخوانی سند (د ګلډ فورډ تاریخ) کې تر سترګو کیږي چې د ۱۵۹۸ م کال سره تړاو لري هلته د یوې ټوټې ځمکې د دعوې په لړ کې لیکي چې د ۱۵۹۸ په شا وخوا کې سري کاونټي کې د بریتانیې د ملکې درباري جان ډیرک چې په ښوونځي کې ښوونکی و، نو د هغه د دوستانو او د ښوونځي زده کوونکو هلته او په نورو ځایونو کې کرکټ لوبه کوله.
له دې جوتیږي چې د شپږم هنري (۱۴۹۱ تر ۱۵۴۷ م) پورې کرکټ په خلکو کې پوره دود شوی و. په ۱۵۶۲ م کال کې د مالډن کارپوریشن په عدلي او قضایي ریکارډ کې د جان پورټر نومې غلام چې په برایون مشهور و، دوسیه کې یې راغلي چې هغه یوه ناقانونه لوبه کلیکټ کوله او د ۱۷ پیړۍ د شاعر ویلیم ګولډي په یو نظم کې هم د کرکټ سیالیو یادونه شوې ده.
کرکټ کلیمه له فرانسوي ژبې اخیستل شوې چې سم تلفظ



یې (کرک کې) دی، خو دا کلیمه تر ۱۴۷۸ م کال پورې د انګلیسي ژبې برخه نه وه ګرځیدلې، په انګلیسي کې د (کرک کرک) مانا ډنډه ده په ۱۷ م پیړۍ کې په اروپایي هېوادونو کې یوه لوبه په بیلو نومونو کیدله، د هغې زمانې لوبې په دریو برخو وېشل کېدې فوټبال، هرلینګ او هینډ بال، په عامه توګه منل شوې چې د کرکټ پیل د انګلستان په سویل ختیځو برخو کې په ورشوګانو کې شوی دی.
د ملکې الزابیت ایول، پیر زرین بلل کیږي ځکه چې لوبو پکې ښه پرمختګ کړی و. د رام ویل د واکمنۍ پر مهال کرکټ د انګلستان د کلتور ارزښتناکه برخه ګرځیدلې وه ایم، سي، سي، په ۱۷۸۲ کې منځته راغی او د کرکټ قوانین په ۱۷۴۷ م کې جوړ کړل شول چې ورسره ګڼ کلبونه منځ ته راغلل.
د کرکټ لومړنۍ لوبه په ۱۶۷۴ م کال کې د انګلستان د کاونټي کینټ سیمې په کوکس هیت سیمه کې وشوه، خو په سمه مانا د کرکټ لومړنۍ لوبه په ۱۶۹۷ م کې په سسېکس سیمه کې وشوه، په ۱۷۰۹ کې لومړنۍ انټر کلب لوبه وشوه په ۱۷۸۴ م کال کې د بندیز له لرې کېدو وروسته کرکټ ډیر پرمختګ وکړ، په ۱۸۸۴ کې ۱۱، ۱۱ لوبغاړي غوره شول او کرکټ پیاوړی شو او ورپسې بیا د کرکټ نړیواله شورا رامنځته شوه.
په ۱۸۷۷ م کال کې د انګلستان او استرالیا ترمنځ لومړنۍ ټیسټ لوبه وشوه او دا لوبه دومره مشهوره شوه چې په ۱۹۷۵ م کال کې د کرکټ لومړنی جام ترسره شو، خو خلک د دې لوبې بیخي ډیر لیواله شول، بیا یو ورځنۍ لوبې پیل شوې او اوس شل اوریزې، بلکې لس اوریزې لوبې هم د مینه والو تنده ماتوي.

2018: Another Successful Year for Afghanistan Cricket

The golden journey of Afghanistan cricket is going from strength to strength over the last years and 2018 was another year that marked significant progress and achievements for the Afghanistan Cricket Board in both professional cricket competitions and administrative affairs. The inception of Afghanistan Premiere League T20 (APLT20) was turned into reality and the worthwhile project was launched in October 2018 by holding the inaugural edition successfully at the historic Sharjah Cricket Stadium.

The comprehensive ODI and T20I series wins against Zimbabwe in February proved the ability of Afghanistan National Cricket Team to overpower other teams; and the capability of Afghanistan Cricket Board to host ICC Full Member Boards - balanced performance in both on-field and off-field areas. In March 2018, all attention in the cricketing world was on the ICC Cricket World Cup Qualifier in Zimbabwe awaiting the confirmation of the two remaining teams in the ICC Cricket World Cup 2019. Afghanistan started the tournament as one of the two favourite teams alongside West Indies and was crowned the Champions of the ICC Cricket World Cup Qualifier 2018 after a bumpy start and finally sealing a place in the ICC Cricket World Cup 2019 scheduled to be held in England and Wales.

Afghanistan climbed to 8th position in the ICC T20 rankings for the first time after a 3-0 whitewash against Bangladesh in Dehradun and qualified for the ICC T20 World Cup scheduled to be held in Australia in 2020. Afghanistan also won away T20I series against Ireland 2-0 and the ODI series 2-1 and with this Afghanistan won seven out of seven T20Is in 2018.

One year after achieving Test status in June 2017, Afghanistan's much anticipated inaugural Test match was played against World No. 1 Test team India in Bengaluru and with this Afghanistan became the 12th country in the history of cricket to play Test cricket.

Afghanistan reached new heights in the Asian Cricket Council Asia Cup in 2018 and qualified for the Super Four stage of the competitions after comprehensively beating Sri Lanka and Bangladesh in group stage matches and finishing at the top of table. The successful and widely applauded campaign in the Asia Cup came to an end with a historical tie match against winner of the event, India. The performance in this year's Asia Cup proved why Afghanistan as a Full Member of ICC deserved direct qualification for the tournament.

Junior level cricket also continued to excel as the Afghanistan U-19 National Cricket Team was Semi Finalist in both ICC U19 Cricket World Cup in New Zealand and ACC U19 Youth Asia Cup in Bangladesh.

Domestic Cricket continued to provide opportunities for players and fans to engage in playing and/or witnessing competitive cricket at home. The annual Ahmad Shah Abdali First Class Tournament was this year played between six teams on four different venues contributing to skills building of players and organizers. Similarly, List A competitions of Ghazi Amanullah Khan Regional One-Day Cup were held on high standards and the last eight matches of the tournament were televised for the first time ever in Afghanistan.

ACB sold TV broadcast and digital rights of international fixtures in the Future Tours Program (FTP) and domestic cricket competitions for a period of five years from 2018-2023 for USD 2.3 million to Total Sports Marketing (TSM) after issuing a tender which was duly approved by board members.

Public Relations and Communications activities were doubled to raise general awareness about the game of cricket amongst and the "Cricket for All" programme was launched to encourage participation in the game of cricket where ACB representatives travelled to far-away areas and provinces that are relatively less familiar with the game of cricket.

annually. The five participating teams in the inaugural Afghanistan Premier League T20 were Kabul Zwanan, Paktia Panthers, Balkh Legends, Nangarhar Leopards and Kandahar Knights. Commercial T20 leagues initially start with lesser number of teams and increase the number as the respective league becomes more prominent and the Afghanistan Cricket Board has similar plans for APLT20 franchises in the future.

The process of sports marketing involves three steps: fan creation, brand creation and revenue creation and the success of leagues like the Afghanistan Premier League T20 revolves around these three easily-said but immensely challenging factors. Plan for launching T20 leagues of their own by some cricket boards in other countries did not materialize because of a highly competitive market and packed calendar of cricketing competitions across the world.

The inaugural edition of APLT20 also known as Gulbahar Afghanistan Premier League T20 was key in fan creation and brand creation of the league supported by the unique characteristics of Afghan cricket brand attached to APLT20. The fairytale of Afghanistan cricket has helped the national team of Afghanistan to be the second favourite for millions of cricket fans and followers throughout the cricketing world after their own countries' team because of the success of Afghanistan cricket against all odds. Future editions are guaranteed to be better and bigger because the first two steps in the process of sports marketing were fulfilled after the successful completion of the first edition of APLT20 and future editions will see revenue creation.

APLT20 was televised on 11 TV channels and two digital platforms covering 60 countries and reaching millions of cricket fans across the world. The matches also received far and wide social media coverage and famous cricketers who were either part of the league or watching the games tweeted on regular basis that was particularly important in brand creation for the league.

The first season of APLT20 was an excellent platform for young Afghan cricketers to play along renowned T20 cricket stars such as

Chris Gayle, Shahid Afridi, Brendon McCullum, Ben Cutting, Luke Ronchi, Colin Munro. These stars were once idolized by young Afghan cricketers and APLT20 made it possible for them to play alongside their idols and share dressing rooms with them. The league also helped young Afghan players to become psychologically stronger by learning the nitty gritty of how to handle pressure situations and cross the finish line easily in winning matches on an international stage. This will be advantageous for players in the years to come when they represent Afghanistan in major ICC events and high profile competitions. In monetary terms, Afghan players in total earned over US$ 1 million after being sold in several categories during a high-profile auction prior to the commencement of league that was dubbed the second best after India Premier League. Players were bought by the five franchises in seven different categories ranging from US$10,000 – US$100,000.

The inaugural edition of APLT20 also had significance in terms of record making in T20 cricket. Kabul Zwanan's young Hazratullah Zazai hit six sixes in an over to become the third player in T20 cricket after India's Yuvraj Sing and England's Ross Whiteley. Zazai achieved the feat against Balkh Legends when he targeted slow left arm spinner Abdullah Mazari and it took him only 12 balls to complete his half century and equaled the record of Yuvraj Singh and Chris Gayle. After his historic innings, Zazai revealed the Chris Gayle is his idol and he was delighted to have achieved this record in front of his idol who played for the opposition team, Balkh Legends. Coincidently, all these three batsmen who jointly hold the record for fastest half century are left handed. This match between Kabul Zwanan and the ultimate Champions Balkh Legends which featured all this entertainment also entered the books of records for most sixes hit in a T20 match when a total of 37 sixes were hit in the game.

The inaugural edition of APLT20 will be remembered for all the challenges, extravaganza, records and exhibition of Afghan talent on a global stage but run and managed by Afghans.

THE AFGHAN BRAND OF T20 CRICKET

Twenty20 (T20) cricket is the shortest format of the game of cricket duly approved by the International Cricket Council (ICC) and played across the cricketing world since early 2000s. The success of the inaugural ICC World Twenty20 in 2007 served as a key stimulation for ICC member boards to launch their own leagues, mainly franchise-based and commercially orientated.

Commercialisation of T20 cricket has become common in the cricketing world and it is a profitable business model for various stakeholders including ICC member boards, franchisees, players, coaching staff, celebrities, sponsors and media rights holders. The television broadcast and digital rights of the Indian Premier League (IPL), which is the most successful amongst all other T20 commercial leagues in the world, were sold to Star Sports for US$ 2.55 billion for a five-year period from 2018-2022.

The Afghanistan Cricket Board (ACB) which is the governing body of cricket in Afghanistan and a member of ICC since 2001 did not want to be behind the race in T20 cricket leagues and first launched the Shpageeza Cricket League in 2013. The fifth edition of Shpageeza was made franchise-based in 2017 to encourage the business community to invest in T20 cricket and it was considerably different to the previous editions, including the commercialisation of the league and diversifying the pool of players and match officials with international cricketers and support staff such as coaches and umpires in the event. All six participating teams were sold in an auction for over 40 million Afghanis. Subsequently, the players' auction was held and over 70 million Afghanis were invested by the six franchises. ACB also raised over 20 million Afghanis in media and marketing revenue in Shpageeza.

Building on the success of Shpageeza, ACB launched the Afghanistan Premier League T20 in January 2018 with it first edition slated for October 2018 at the historic Sharjah Cricket Stadium in the United Arab Emirates. Snixer sports was contracted as the investment partner of the APLT20 for a period of six years and pays the Afghanistan Cricket Board a sanctioning fee of US$600,000.00

عزيزی بانک

Azizi Bank

د عزيزي بانک له ماستر کارت
سره لا زياتې اسانتياوې



24 HOURS CUSTOMER CARE NO:1515
www.azizibank.af